مجله علمی پوهنتون سلام
https://salam.edu.af/magazine/14

# موضوعي تفسير ،پيژندنه،ارزښت ،او کړنلاره

**دکتور فصيح الله عبدالباقی**[1]

## چکيده

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لانبي بعده وآله وصحبه ومن تبعهم إلى يوم الدين وبعد:

فإن من أعظم العلوم التي صرفت إليه الهمم، علم كتاب الله المنزل على محمد صلى الله عليه وسلم، إذ هو كلام الله الذي لا يأتيه الباطل من بين يديه ولا من خلفه تنزيل من حكيم حميد، ومن هنا اجتمعت كلمة علماء الأمة على العناية بتفسيره، ولهم في تناول هذا العلم أساليب عدة؛ منها التفسير الموضوعي وهذا اللون من التفسير هو مجال بحثنا في هذا المقال. بدأنا ببيان تعريف التفسير الموضوعي، ثم نشأته ومراحله التاريخية، وكيف مر هذا اللون الأهم من ألوان التفسير بمراحل مختلفة، مع تسليط الضوء على أسباب نشأته.

كما تطرقنا إلى أنواع التفسير الموضوعي وأساليب العلماء فيه مع ذكر الإحتياج لكل نوع ومجاله.

كما تم تسليط الضوء على مناهج العلماء والمفسرين في تناولهم للتفسير الموضوعي، إلى جانب ذكر المؤلفات والكتب المهمة التي ألفت في هذا الصدد. و المقال بمجموعه يدور حول إحتياج الناس في هذا الزمن إلى التفسير الموضوعي.

1- عضو کادر علمی پوهنځی شرعیات پوهنتون سلام.
: +93788654387
: Fasih.1392@gmail.com@gmail.com

**معلومات مقاله**

**تاریخ نشر: 1399/11/20**
**شماره مقاله در ژورنال: 05**
**تعداد صفحات: 13**
**شماره نوبتی مجله: 9 و 10**

**کلید واژه ها**

**موضوعی تفسیر ، تفسیرپیژندنه ، کړنلاره، أشباه او نظاير ، اجمالی تفسیر**

**معلومات مجله:**

مجله علمی پوهنتون سلام، نشرات خویش را از سال 1390 هـ.ش آغاز نموده و دست آورد های زیادی در این زمینه دارد، در ادامه سلسله فعالیت های خویش به تاریخ 1401/03/22 اعتبار نامه خویش را به عنوان یکی از معتبرترین مجله از وازرت محترم تحصیلات عالی کشور به دست آورد،
آدرس: افغانستان، کابل، ناحیه چهارم، کلوله پشته، چهار راهی قلعه بست (گل سرخ)، پوهنتون سلام.
**آدرس ارتباطی؛** **ویب‌سایت:** https://salam.edu.af/magazine ، **ایمیل:** salamuk@salam.edu.af ، **شماره های تماس:** +93202230664 و +93788275275

## پیلیزه

الحمد لله، والصلاة والسلام على سيدنا رسول الله، وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد:

قرآن کريم د الله تعالی کلام او د انسانانو د لارښوونې لپاره د هغه سبحانه وتعالی له لورې آخرنې پیغام دی، لدی امله چې دا مبارک کتاب د مسلمانانو د ژوند لارښود او رهنما دی، (هَـٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ[1] ژباړه: دا د خلکو له پاره ډانګ پیلې تنبیه ده او له الله نه ویرېدونکیو ته هدایت او نصیحت دی. مسلمانانو د تاریخ په اوږدو کې تر ننه پورې په هراړخیز ډول د دې ستر کتاب خدمت تر سره کړی، او دقیامت تر ورځې پورې به ان شاء الله دا لړۍ ادامه مومي، د امت سترو علماو خپل ژوند د قرآن کريم د خدمت لپاره وقف کړی و او په ډګر کې يې بې ساري خدمتونه سر ته رسولي، د دې خدمتونو په لړ کې يو ډګر هم د قرآن

کریم د تفسیر دی په سلګونو علماو او مفسرینو دا مبارک کتاب تفسیر کړی او د خپل توان سره سم یې قرآني مفاهیم د انسانانو مخ ته ایښي ، لله الحمد اوس مهال په اسلامي کتابتون کې په سلګونو چاپ او ناچاپ تفسیرونه لرو چې هر یو یې په خپل وار او خپل ځای قیمتي ملغلرې لري.

په ټوله کې موږ د قرآن کریم تفسیر په څلور ډولونو (تحلیلی،اجمالي، مقارن او موضوعي) ویشلې شو.

لدې امله چې د تفسیر په ډګر کې موضوعي تفسیر نسبتا نوی دی موږ په دی لیکنه کې هڅه کړې چې د موضوعي تفسیر اړین او بنسټیز اړخونه وڅیړو او د محترمو لوستونکو او په ځانګړي ډول د قرآني علومو مینه والو مخ ته یې کیږدو، موضوع ته په کتلو سره په دی لیکنه کې لاندې مطالب په پام کې نیول شوی دي:

- د موضوعي تفسیرپیژندنه
- د موضوعي تفسیرتاریخي پړاوونه
- د موضوعي تفسیر د منځته راتللو لاملونه
- د موضوعي تفسیر ډولونه
- د موضوعي تفسیر او نورو تفسیري کړنلارو تر منځ توپیر
- د موضوعي تفسیر ګټې
- د موضوعي تفسیر مناهج او کړنلارې
- د موضوعي تفسیر په اړوند ځانګړي کتابونه او لیکنې

**د موضوعي تفسیر پیژندنه**

د موضوعي تفسیر د پیژندنی لپاره اړینه ده چې د دی مرکب داوړه برخې (تفسیر او موضوع) باید و پیژنو.

**لومړی: تفسیر**

تفسیر عربي کلمه ده چې د(فسر)څخه اخستل شوی د(بیانولو،څرګندولو ، ظاهرولو او روښانه کولو) په معنی استعمالیږي 1.

امام راغب په خپل کتاب مفردات القرآن کی وایي: التفسیرإظهار المعنى المعقول 2 .

او تفسیر د (فسر) څخه د مبالغې په توګه استعمال شویدی لکه چې الله تعالی فرمایي: {وَلا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا} 3 ژباړه: او ( په دې کښې دامصلحت هم دی ) چې کله هغوی تاته کومه بې سابقې خبره (یا حیرانوونکې پوښتنه ) راوړي دهغې سم ځواب مونږپه خپل وخت تاته درکړو او په ډېر ښه ډول سره موخبره روښانه کړه.أي أحسن توضيحًا وبيانًا للمطلوب.یعنی په ډیر ښه وضاحت او څرګندونې سره.

او په ا صطلاح کې علماو د تفسیر ګن شمیر تعریفونه کړیدي د هغوی له جملې څخه شیخ عبدالعظیم زرقاني 4 وایې چې:(علم يبحث فيه عن القرآن من حيث دلالته على مراد اللّٰه تعالى بقدر الطّاقة البشرية).

تفسیر هغه علم دی چې په هغه کې د انساني توان سره سم د قرآن کریم په اړوند څیړنه کیږي تر څو د هغه څخه د الله تعالی مراد معلوم کړای شي.5

**دویم :موضوعي:**

موضوعي د (وضع) څخه اخستل شوی، او (وضع) په لغت کې یو شی په یو ځای کې اچولو او غورځولو ته ویل کیږي. ابن فارس وایي:الواو والضاد والعين: أصلٌ واحد يدلُّ على الخَفْض [للشيء] وحَطِّه. وَوَضَعتُه بالأرض وضعاً، ووضَعت المرأة ولدَها.6

یعنی: د (واو،ضاد او عین)عربي ریښه د یو شي په یوځای کې په غورځولو او اچولو دلالت کوي لکه چې عرب وایي: فلاني شي می پر مځکه وغورځاوه ، یا مثلا وایي: ښځي خپل ماشوم واچوه.

موضوع د تفسیر په اصطلاح کې:هره هغه مسآله یا کړنه چې د عقیدې،ټولنیزو اخلاقو، کائناتو یا کوم بل شي پوري تړلې وي او د قرآن کریم په آیتونو کې د بحث او څیړنې لاندې نیول شوی وي.7

دکتور عبدالستارسعید8 وایي: دا لغوي معنی د موضوعي تفسیر په مفهوم کې په څرګند ډول تر سترګو کیږي پدی ډول چې یو مفسر- په موضوعي تفسیر کې د ټاکلې موضوع اړوند ټول معلومات په یو ځای کې راجمع کوي او د هغه وروسته بیا بله موضوع پیل کوي 1.

---

[1].الصحاح تاج اللغه وصحاح العربيه۲/ ۷۸۱ د إسماعيل بن حماد الجوهري لیکنه د أحمد عبد الغفور عطار تحقیق د چاپ ځای: دار العلم للملايين – بيروت د چاپ نوبت: څلورم1407 ه - 1987 م او: المصباح المنير۱/۲۴۵ د أحمد بن محمد بن علي الفيومي المقري لیکنه.چاپ کوونکې: المكتبة العصرية

[2]. المفردات في غريب القرآن: 571. دأبو القاسم الحسين بن محمد لیکنه د محمد سيد كيلاني تحقیق،اناشر دار المعرفة، د چاپ ځای : لبنان

[3]. [الفرقان: 33]

[4]. محمد العظيم الزُّرْقاني (د زا په پیښ سره) : د مصر په جعفریه سمیه د غربي ولایت اوسیدونکې او زرقاني ورته د زرقان ښار لوري ته د نسبت په وجه ویل کیږي ، د څوارلسمې هجري پیړی په پیل کې زیږدلې او په کال ۱۳۶۷ هجري قمري د قاهرې په ښار کې وفات شوی دی.د ازهر پوهنتون د اصول الدين له فاکولتې څخه فارغ شوی او بیا په همغه فاکولته کې د تفسیر او حدیث د استاد په حیث دنده تر سره کړې، د مشهورو کتابونو له جملې څخه یې یو هم (مناهل العرفان في علوم القرآن) .ووینې:الأعلام للزركلي210/6

[5]. مناهل العرفان فی علوم القرآن، ج 1، ص 471، د محمد عبد العظیم، الزرقانی لیکنه ، دچاپ ځای: دار احیاء التراث العربی.

[6]. معجم مقاييس اللغة ۱۱۷/٦د أبو الحسين أحمد بن فارس بن زكريا لیکنه د عبد السلام محمد هارون په تحقیق، چاپ: دار الفكر د چاپ نوبت: 1399هـ - 1979م.

[7].مباحث في التفسير الموضوعي ص۸ د دکتورمصطفی مسلم لیکنه، دچاپ ځای: دار القلم ،الطبعة: الرابعة 1426هـ - 2005م.

[8]. دکتورعبد الستار فتح الله سعید- په مصر کې د کفرپه سیمه کې - چې د بحیره ولایت په مربوطاتو کې ده- په کال ۱۳۵۰ هجري قمري کې زیږدلی د قرآن کریم د حفظ کولو وروسته یې خپلې لوړی زده کړې په ازهر کیې د اصول الدین په فاکولته کې سرته رسولې، بیا یې د نړی په بیلا بیلو پوهنتونونو کې (لکه: جامعة الإمام الإسلامية رياض، وكلية أصول الدين قاهرة، وجامعة أم القرى مكة المكرمة) د تدریس چارې سرته رسولې،نوموړې د اخوان المسلمون نړیوال خوځښت د قیادتونو څخه شمیرل کیږي چې یو وخت د مکتب ارشاد غړې هم پاتی

**د موضوعي تفسيرتعريف:**

له دې امله چې موضوعي تفسير نوې علم دی معاصرو پوهانو د دی تفسیر ګڼ تعریفونه کړيدي چې د ځينو څخه يې په لاندی ډول يادونه کوو:

- ❖ د قرآني لر ليد څخه يوه فكري، ټولنيزه ،كائناتي يا كومه بله موضوع په داسې توګه څېړل چې په پايله کې د نومړې موضوع په اړه قرآني تصور روښانه شي.
- ❖ د يوی موضوع په اړوند په قرآن كريم كې تيت وپرك ټول هغه آيتونه چې (لفظا يا حكما د هغه پورې تړلي وي) راغونډه ول او د قرآن كريم د مقاصدو په رڼا کې يې تفسيرول.
- ❖ د قرآن كريم د يو سورت يا ګڼو سورتونو په رڼا كې يوه ځانګړې موضوع څېړل او بيانول.
- ❖ موضوعي تفسير يو داسې علم دی چې په هغه کې د قرآن كريم په بيلا بيلو مسائلو کې (چې د معنی یا موخې او هدف په اعتبار ورته والی ولري) په داسې توګه څېړنه او بحث كيږي چې د هغې اړوند خواره واره آيتونه راغونډيږي، په ځانګړې ډول او د ځانګړي شرطونو په نظر كې نيولو سره په هغه كې غور او فكر ترسره كيږي تر څو د نومړې موضوع معنی او مفهوم روښانه او بيلا بيل عناصر يې استنباط کړای شي، او د راغونډ شويو آيتونو تر منځ عمومي تړاو اواړيکه څرګنده شي.2
- ❖ او يو تعريف په دی توګه شوی چې:(هو علم يتناول القضايا حسب المقاصد القرآنية من خلال سورة أو أكثر).
- ❖ موضوعي تفسير يو داسې علم دی چې په هغه كې د قرآني مقاصدو سره سم ځانګړې كړني او مسائل څېړل كيږي البته دا څيړنې كله د يو سورت او كله د بيلابيلو سورتونو په ترڅ كې صورت نيسي.3

د دی تعریفونو په مينځ دا آخرنۍ تعريف په دوه دليلونو راجح دی لومړې دا چې له لنډ او مختصر دی او بل دا چې د موضوعي تفسير دوه بنسټيزو ډولونو ته پکې اشاره شويده.

**د موضوعي تفسير تاريخي پړاوونه:**

د معلوماتو پر بنسټ د موضوعي تفسير اصطلاح ډيره پخوانی نه ده، پخوانيو مفسرينو په خپلو تفسيرونو كې دا اصطلاح اصلا نه ده كارولې، د تفسير په ډګر كې د لومړي ځل لپاره دا اصطلاح هغه وخت رامنځته شوه كله چې په تيره هجري پيړۍ (په څوارلسمه پيړۍ) كې د مصر- د ازهر پوهنتون د اصول الدين په فاكولته كې تدريسي هيآت دا مضمون(موضوعي تفسير) د تفسير په څانګه كې مقرر كړ، كه څه هم د موضوعي تفسير اصطلاح د تفسير په ډګر كې نوې ده ولې د دی ډول تفسير عناصر خپله د رسول الله صلى الله عليه وسلم د زماني څخه د تفسير په مجال په څرګند ډول تر سترګو كيږي، ډير ځله رسول الله صلى الله عليه وسلم ځينې مسائل د قرآن كريم د بيلا بيلو آيتونو په رڼا کې تفسير کړي او د هغې مدلول او مفهوم يې صحابه كرامو رضوان الله عليهم ته روښانه كړې د بيلګې په توګه:

په صحيحينو كې د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه په روايت داسې راغلي:لما نزلت هذه الآية: {الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ}[4] شق ذلك على الناس، فقالوا: يا رسول الله وأينا لا يظلم نفسه؟ قال: "إنه ليس الذي تعنون، ألم تسمعوا ما قال العبد الصالح: {إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ}[5] ، إنما هو الشرك".[6]

يا د امام بخاري[7] هغه حديث چې وايي:أن رسول الله صلى الله عليه وسلم فسر مفاتح الغيب في قوله تعالى: {وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ} [8] فقال: "مفاتح الغيب خمس: {إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ}.[9]

په همدی ډول د صحابه كرامو په اړه راغلي چې هغوی كله ناكله داسې انګيرله چې ګوا كې د قرآن كريم په ځينو آياتونو كې تعارض دی بيا به يې بيلا بيل آيتونه راغونډ كړل او درست او صحيح مدلول به يې تر لاسه كړ د بيلګې په توګه د امام بخاری دا روايت چې سعيد ابن جبير رحمه الله وايي: قال رجل لابن عباس رضي الله عنهما إني لأجد في القرآن أشياء تختلف علي، قال: {فَلا أَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلا يَتَسَاءَلُونَ} ، {وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ} ، {وَلا يَكْتُمُونَ اللَّهَ حَدِيثًا} ، {وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ} فقد كتموا في هذه الآية، وقال تعالى: {أَأَنْتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ السَّمَاءُ بَنَاهَا، رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّاهَا، وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَاهَا، وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَلِكَ دَحَاهَا} فذكر خلق السماء قبل الأرض، ثم قال تعالى: {قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ الْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ} إلى قوله: {طَائِعِينَ} فذكر في هذه خلق الأرض قبل خلق السماء. وخلق الأرض في يومين ثم خلق السماء ثم استوى إلى السماء فسواهن في يومين آخرين ثم دحى الأرض ودحيها أن أخرج منها الماء والمرعى وخلق الجبال والرمال والجماد والآكام وما بينهما في يومين آخرين فذلك قوله تعالى: {دَحَاهَا}[10]. او داسی نور ګڼ مثالونه وجود لري.

له همدی ځايه تفسير پوهانو دا تفسيري قاعده وضع كړه چې( القرآن يفسر بعضه بعضا) يعنی دا چې قرآن كريم ډير ځله خپله خپل تفسير كوي په يو ځای كې يو آيت مجمل ذكر شوی وي په بل ځای كې د هغه تفصيل موجود وي، يا په يو ځای كې يو حكم مطلق ذكر شوی وي په بل ځای كې هغه مقيد شوی وي، ځكه امام ابن

---

شوی،استاد ګڼ تاليفات لري چې د هغی له جملې څخه: المنهاج القرآني في التشريع- معركة الوجود بين القرآن والتلمود -المدخل إلى التفسير الموضوعي -الغزو الفكري -العلم والعلماء في ظل الإسلام) يادولای شو.ووينی:https://www.ahlalhdeeth.com/vb/showthread.php?t=176297 ملتقى اهل الحديث

[1] - .المدخل إلى التفسير الموضوعي 20، 23. د دكتور عبد الستار فتح الله ليكنه.د چاپ ځای:دار التوزيع والنشر الإسلامية، القاهرة.

[2]. د دی تعريفونو لپاره وګورئ:المدخل إلى التفسير الموضوعي: ص20؛ او دراسات في التفسير الموضوعي د دكتور زاهر عواض ليكنه:ص 7.

[3]. مصطفى مسلم مباحث في التفسير الموضوعي ص٨

[4]. [الأنعام: 82]

[5]. [لقمان: 13]

[6]. صحيح البخاري، كتاب التفسير: 6/ 20، صحيح مسلم، كتاب الإيمان: 1/ 80

[7] - صحيح البخاري، كتاب التفسير: 5/ 193.

[8]. [الأنعام: 59]

[9]. [لقمان: 34]

[10] - صحيح البخاري، كتاب التفسير: 6/ 36

تیمیه[1] په خپله رساله (مقدمة فی اصول التفسیر) کې داسې لیکي:

"إن أصح الطرق في ذلك -أي في تفسير القرآن- أن يفسر القرآن بالقرآن، فما أجمل في مكان فإنه قد فسر في موضع آخر، وما اختصر في مكان فقد بسط في موضع آخر" [2].

یعني:د قرآن کریم د تفسیر تر ټولو غوره طریقه دا ده چې قرآن کریم پخپله په قرآن تفسیر کړای شي، ځکه چې ډیر ځله مجمل او مختصرآیتونه او احکام په نورو ځایونو کې مفصل راغلي دي.

لکه د بیلګې په ډول چې الله تعالی په سورة النحل فرمايي: {وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ} [3] ،یعنی ای محمد - صلی الله علیه وسلم – موږ پر یهودانو چې څه حرام ګرځولي لدی مخکې مو تاته بیان کړي دي ، کله چې موږ د قرآن کریم نورو آیتونو ته مراجعه کوو وینو چې د دی آیت دا مجمله خبره په نورو آیتونو کې په تفصیل ذکر شوی ده ، او د دی اجمال په نتیجه کې چې کوم ابهام تر سترګو کیده هغه رفع شوی دی لکه د سورت انعام په ۱۴۶ آیت کې الله تعالی فرمایي:
{وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَا إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَا أَوِ الْحَوَايَا أَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ذَلِكَ جَزَيْنَاهُمْ بِبَغْيِهِمْ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ}[4]

ژباړه:اوکومو خلکو چې یهودیت غوره کړ پر هغو مونږ ټول نوکانو والا ځناور حرام کړي وو، او د غوایانو او پسونو وازده هم،له هغې نه پرته چې دهغو په پختیو یاد هغو په کولمو یا په هډوکو پورې نښتې وي،دا مونږ د هغو د سرغړونې سزاهغوی ته ورکړې وه او دا څه چې مونږ وایو بیخي ریښتیا وایو.

او یا لکه په دی آیت کې چې الله تعالی فرمایي: { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَوْفُواْ بِالْعُقُودِ أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ الأَنْعَامِ إِلاَّ مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ} [5]. ای مؤمنانو! د عهدونو او بندیزونو پوره مراعات وکړئ ستاسې له پاره د څارویو ټول ډولونه حلال وګرځول شول ، پرته له هغو چې وړاندې به تاسې ته وښودل شي.

د سورت المائده په لومړي آیت کې د څارویو د محرماتو په اړوند وویل شو چې: ستاسې له پاره د څارویو ټول ډولونه حلال وګرځول شول ، پرته له هغو چې وړاندې به تاسې ته وښودل شي، کله چې موږ د قرآن کریم نورو آیتونو ته مراجعه کوو وینو چې د دی اجمال تفصیل موږ ته را په ګوته کوي.

لکه د سورت البقره په ۱۷۲ او۱۷۳ شمیره آیتونو کې الله تعالی داسی مهرباني کوي:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ، إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ} [6].

ژباړه:اې مؤمنانو! که تاسې په رښتیا سره د الله بندګي کوونکي یاست؛ نو کوم پاك شیان چې مونږ درکړیدي هغه په آزاده سره خورئ اود الله شکر باسئ،د الله له لوري که پر تاسې څه بندیز لګول شویدی نو هغه دادی چې مرداره مه خوري ، دوینې او د خوګ د غوښې له خوړلو نه ډډه وکړئ او داسې کوم شی مه خورئ چې پر هغه له الله نه پرته د بل چا نوم اخیستل شوی وي .

او یا لکه د سورت المائده په ۳ شمیره آیت کې فرمایي: {حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ ذَلِكُمْ فِسْقٌ} [7] . ژباړه:پر تاسې حرامه کړای شوه مرداره ، وینه ، دخوګ غوښه ، هغه څاروی چې له خدایه پرته د کوم بل چا په نوم ذبحه کړای شوی وي، هغه چې په ستوني خپه کېدو ، په زخمي کېدو یا له لوړې نه په راغورځېدو ، مړ شوی وي، یا بل څاروي په ښکر وهلی مړ شوي وي یا هغه چې کوم ځناور څیرې کړی وي پرته له هغه چې تاسې هغه ژوندی موندلی او ذبحه کړی وي او هغه څاروی چې د کوم چا په دربار کښې ذبحه کړای شوی وي همدا رنګه دا هم ستاسې له پاره ناروا ده چې د فال پر غشو خپل فال وګورئ دا ټول کارونه فسق دی.

او یا لکه د سورت انعام په ۱۴۵ شمیره آیت کې الله تعالی فرمایي:{قُلْ لا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنْزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ} [8]. ژباړه:ای محمده (صلی الله علیه وسلم) ! دوی ته ووایه کومه وحې چې ماته راغلې ده په هغې کښې خوزه کوم داسې شی نه نه مومم چې پر کوم خوړونکي حرام وي، مګر دا چې هغه مرداره وي یا بهوله شوې وینه وي، یا د خوګ غوښه وي چې هغه ناپاکه ده، یافسق وي چې له الله نه پرته دبل چاپه نوم ذبحه کړای شوی وي.

د دی تر څنګ ډیرو پوهانو پرته له دی چې د موضوعي تفسیر اصطلاح وکاروي په ځانګړیو کتابونو کې یې د قرآن کریم بیلا بیلی کلمې څیړلي، یو شان کلمې یې راغونډې کړي او د هغی بیلا مصداقات او مدلولات یې په ګوته کړي چې دا هم د موضوعي تفسیر یوه بله بیلګه بلل کیږي.دلته موږ د بیلګې په ډول د ځینو هغه کتابونو یادونه کوو:-

---

[1]. شيخ الإسلام أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام ابن عبد الله بن أبي القاسم الخضر النميري الحراني الدمشقيّ الحنبلي، أبو العباس، تقي الدين ابن تيمية: د حران په سیمه ٦٦٢هجري قمري کی زیږدلی ټول عمر یي د دین په دعوت،درس او تدریس او تالیف کې تیر کړی، د مشهور کتابونو له جملی څخه یې:
(السياسة الشرعية) (الفتاوى) (الإيمان) (الجمع بين النقل والعقل) (منهاج السنة) و (الفرقان بين أولياء الله وأولياء الشيطان) و (الواسطة بين الحق والخلق) و (الصارم المسلول على شاتم الرسول) و (مجموع رسائل) و (نظرية العقد) (تلخيص كتاب الاستغاثة) (رفع الملام عن الأئمة الأعلام) (القواعد النورانية الفقهية) و (التوسل والوسيلة) و (نقض المنطق) او داسی نور،نوموړي امام په کال۷۲۸ هجري قمري کې په دمشق کې وفات شوی.ووینئ: والدرر الكامنة 1: 144 ،البداية والنهاية 14: 135 ،النجوم الزاهرة 9: 271

[2]. ابن تيمية ،مقدمة في أصول التفسير دعدنان زرزور په تحقيق:ص 93.

[3]. [النحل: 118]

[1]. [الأنعام: 146]

[5]. [المائدة: 1]

[6]. [البقرة: 172، 173]

[7]. [المائدة: 3]

[8]. [الأنعام: 145].

- "الأشباه والنظائر في القرآن الكريم" د مقاتل 1 بن سليمان رحمه الله ليکنه ده چې په کال ۱۵۰ هجري کې وفات شوی، په نوموړي کتاب کې مقابل رحمه الله هغه قرآني کلمې راغونډې کړي د لفظ په اعتبار يو شان دي ولی د مدلول او معنی په اعتبار د قرآني سياق پر اساس توپير لري.
- کتاب "التصاريف" د يحيى بن سلام 2 رحمه الله۲۰۰ هـ ، ليکنه ده چې د کتاب الأشباه والنظائر په طريقه ليکل شوی ده.
- "المفردات في القرآن" د راغب 3 اصفهاني رحمه الله ۵۰۲ هـ کتاب دی ، چې لومړي يي د قرآني کلمې ماده پلټلې او بيا يي په مختلفو آيتونو کې د هغه بيلا بيل مدلولات ذکر کړي دي.
- "نزهة الأعين النواضر في علم الوجوه والنظائر". ابن الجوزي 4 رحمه الله 597هـ ليکنه ده.
- "إصلاح الوجوه والنظائر في القرآن الكريم". د دامغاني 5 رحمه الله 478هـ کتاب دی.
- "بصائر ذوي التمييز في لطائف الكتاب العزيز". فيروزآبادي 6 رحمه الله 817هـ ليکنه ده.
- "كشف السرائر في معنى الوجوه والأشباه والنظائر". د ابن العماد 7 رحمه الله 887هـ ليکنه ده.

دا او دی ته ورته د پخوانيو علماو ليکنی هم په حقيقت کې يو ډول موضوعي تفسير بلل کيږي.البته دا او دی ته ورته کتابونو کې د غريبو او نا آشنا کلماتو څيړنه تر سره شوی.

په همدی توګه موږ وينو چې د امت فقهاو په خپلو فقهي کتابونو کې له دی کړنلارې څخه کار اخستي او د يو فقهي موضوع اړوند ټول آيتونه يې د يو عنوان لاندې راغونډ کړي دي لکه د بيلګې په ډول د رکوع ، سجدې ، قيام ، قرآت اړوند آيتونه يي کتاب الصلوت تر عنوان لاندی راجمع کړي يا مثلا د اودس او تيمم اړوند آيتونه يې د(کتاب الطهاره) تر عنوان لاندی راغونډ کړي او همدا راز ټول فقهي ابواب په دی ترتيب ليکل شوی چې دا پرته له دی چې د موضوعي تفسير اصطلاح وکارول شي په حقيقت کې د موضوعي تفسير يوه بيلګه ده.

د دی تر څنګ په پخوانيو مفسرينو کې ګڼ شمير يې داسی هم وو چې دقرآن کريم يو ځانګړې موضوع يې د بحث او څيړنی لاندې نيولې لکه د بيلګې په توګه:

- امام أبو عبيد القاسم بن سلام 8 رحمه الله 224هـ چې د(الناسخ والمنسوخ) تر عنوان لاندې کتاب لري.
- امام علي بن المديني 9 رحمه الله 234هـ د( أسباب النزول) تر عنوان لاندې ليکنه لري.

---

1. أبو الحسن مقاتل بن سليمان بن بشير ازدي بلخی، په کال ۱۵۰ هجري کې زيږدلی،نومیالی مفسردی،په اصل کې د بلخ اوسيدونکې دی ولی بيا بصری ته منقل شوی،او د علم په لټه کې بغداد ته هم تللی، نوموړي ګڼ کتابونه لري چې دهغی د جملې څخه: (التفسير الكبير) (نوادر التفسير) (الرد على القدرية) (متشابه القرآن) (الناسخ والمنسوخ) (القراءات) (الوجوه والنظائر) ووينئ:الاعلام د خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الزركلي الدمشقي (المتوفى : 1396هـ)ناشر : دار العلم للملايين د چاپ نوبت: پنځلسم - 2002 م

2. يحيى بن سلام بن أبي ثعلبة، التيمي (124 - 200 هـ = 742 - 815 م) ستر مفسر، فقيه، محدث او ژبپوه دی،تقريبا شلو تابعينو سره يی ليدنه شوی ګڼ شمير کتابونه يی تاليف کړي چې له هغه له جملی څخه يی يو تفسير دی. ووينئ:طبقات علماء إفريقية د أبي العرب 37 - 39 ، ميزان الاعتدال 3: 290 ،لسان الميزان 6: 259 - 261 56وغاية النهاية لابن الجزري 2: 373

3. الحسين بن محمد بن المفضل، أبو القاسم الأصفهاني چې الراغب شهرت لري په کال ۵۰۲ هجري کې په اصفهان کې زيږيدلی،بيا د علم په لټه کې بغداد کې پاته شوی، د مشهورو مفسرينو او اديبانو له جملی څخه شميرل کيږي،ګڼ کتابونه لري چې څينی يې په لاندی ډول دي:
(محاضرات الأدباء) (الذريعة إلى مكارم الشريعة) (الاخلاق) چې د (أخلاق الراغب)په نوم شهرت لري (جامع التفاسير) (المفردات في غريب القرآن) و (حل متشابهات القرآن) و (تفصيل النشأتين) (تحقيق البيان - خ) في اللغة والحكمة، (الاعتقاد) (أفانين البلاغة)و دي کتل شي الاعلام د خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الزركلي الدمشقي۲۵۵/۲

4. عبد الرحمن بن علي بن محمد الجوزي قرشي بغدادي، أبو الفرج په کال ۵۹۷ هجري په بغداد کې زيږيدلی په تفسير، حديث تاريخ او نورو علومو کې ډيری ليکنی لري څينی په لاندی ډول دی (تلقيح فهوم أهل الآثار، في مختصرالسير والاخبار) (الاذكياء وأخبارهم) (مناقب عمر بن عبد العزيز) و (روح الارواح) و (شذور العقود في تاريخ العهود) (المدهش) (المقيم المقعد) (صولة العقل على الهوى) (الناسخ والمنسوخ) (تلبيس إبليس) (فنون الافنان في عيون علوم القرآن) (لقط المنافع) (المنتظم في تاريخ الملوك) و دي کتل شي الاعلام د خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الزركلي الدمشقي۲۵۵/۲

5. الحسين بن محمد بن ابراهيم الدامغاني (أبو عبد الله). (478 هجري) (1085 ميلادي) ستر عالم تير شوی دی د ليکنو له جملی څخه يې (الزوائد )(النظائر) (فوائد البصائر)او (شوق العروس وانس النفوس) مشهور دي. معجم المولفين ۴۴/۴ د رضا کحاله ليکنه.

6. الفيروزآبادي(729 - 817 هـ = 1329 - 1415 م)
محمد بن يعقوب بن محمد بن إبراهيم بن عمر، أبو طاهر، مجد الدين الشيرازي الفيروزآبادي د عربي ژبی او ادب امام ګڼل کيږي په شيراز کې زيږدلی او ګڼ شمير کتابونه لري چې څينی په لاندی ډول دي (القاموس المحيط) (المغانم المطابة في معالم طابة) (تنوير المقباس في تفسير ابن عباس) (بصائر ذوى التمييز في لطائف الكتاب العزيز) (نزهة الاذهان في تاريخ أصبهان) (الدرر الغوالى في الاحاديث العوالي) (الجليس الانيس في أسماء الخندريس) (سفر السعادة) (المرقاة الوفية في طبقات الحنفية) (البلغة في تاريخ أئمة اللغة) (تحبير الموشين في ما يقال بالسين والشين) و (المثلث المتفق المعنى) (الاشارات إلى ما في كتب الفقه من الاسماء والاماكن واللغات) (نغبة الرشاف من خطبة الكشاف) .الاعلام للزركلی۱۴۶/۷

7. ابن العماد(825 - 887 هـ = 1422 - 1482 م)محمد بن محمد بن علي البلبيسي قاهري، شمس الدين المعروف بابن العماد، په مصر کې زيږدلی ګڼ کتابونه لري چې يو يې هم (كشف السرائر في معنى الوجوه والاشباه والنظائر) همدا راز د بيضاوي تفسير يی هم اختصار کړی. ووينئ:الضوء اللامع 9: 162 وهدية العارفين 2: 212

8. ابوعبيد القاسم بن سلام د هرات اوسيدونکی (157 - 224 هـ = 774 - 838 م) د حديث ،ادب ، تفسير او فقهي د سترو علماو څخه شميرل کيږي ګڼ شمير کتابونه يې تاليف کړي لکه" الغريب المصنف "، " الطهور " ، " الاجناس من كلام العرب " ، " أدب القاضي " ، " فضائل القرآن " ، الامثال " ، " المذكر والمؤنث " ، " المقصور والممدود " في القراآت، " الاموال " ، " الاحداث " ، " النسب " او " الايمان ومعالمه وسننه واستكماله ودرجاته "
وګورئ: تذكرة الحفاظ 2: 5 وتهذيب التهذيب 7: 315 وابن خلكان 1: 418 وطبقات النحويين واللغويين وتاريخ بغداد 12: 403 وطبقات السبكي 1: 270

9. علي بن عبد الله بن جعفر السعدي بصري، أبو الحسن (161 - 234 ه = 777 - 849 م): ستر محدث ،مؤرخ، چې تقريبا ۲۰۰ تاليفات لري په بصره زيږيدلی او سامراء کې وفات شوی د کتابونو له جملې څخه يې " الاسامي والكنى " ، " الطبقات " ، " قبائل العرب " ، " التاريخ " ، " اختلاف الحديث " ، " مذاهب المحدثين " ، " تسمية أولاد العشرة " او " علل الحديث ومعرفة الرجال " او داسی نور. وګورئ: تذكرة الحفاظ 2: 15 وتهذيب التهذيب 7: 349 وطبقات الحنابلة 168 وميزان الاعتدال 2: 229

- إمام ابن قتيبة 1 رحمه الله 276هـ چې د (تأويل مشكل القرآن) تر عنوان لاندی کتاب لري.
- امام أبو بكر الجصاص الحنفي 2 رحمه الله 370هـ د "أحكام القرآن" تر عنوان لاندې ځانګړې کتاب لري.
- امام ابن العربي المالكي 3 رحمه الله 543هـ هم د "أحكام القرآن" تر عنوان لاندې کتاب لري.
- امام إلكيا الهراسي الشافعي 4 رحمه الله 504 هـ هم د "أحكام القرآن" پر موضوع مستقل کتاب لري.
- امام ماوردي 5 رحمه الله 450هـ. د "أمثال القرآن" تر عنوان لاندې کتاب لري.
- امام عز بن عبد السلام 6 رحمه الله 660هـ.د "مجاز القرآن" پر موضوع په زړه پورې ليکنه کړې.
- حافظ ابن القيم 7 رحمه الله 751هـ. دوه عمده کتابونه د "أقسام القرآن" او"أمثال القرآن" تر عنوان لاندې ليکلی دي.

---

[1]. أبو محمد عبدالله بن مسلم بن قتيبةالدِّينَوَري المَرْوزيّ،په کال ۲۱۳هجری کوفه کې زیږیدلی او په کال ۲۷٦ هجري کې یې له دی نړۍ څخه سترګې،امام ابن قیبه د امت د سترو علماو له جملی څخه ګڼل کیږي،ګڼ شمیر تالیفات لري چې له هغی د جملې څخه: آ- أدب الكاتب
ب- إصلاح غلط أبي عبيد في الحديث
جـ - تأويل مشكل القرآن
د- تأويل مختلف الحديث.
هـ - عيون الأخبار او داسی نور
ووینئ: بغية الوعاة (2/ 63)، وشذرات الذهب (3/ 318)، ونزهة الألباء (ص159)،تاريخ بغداد 10/ 170)، تهذيب التهذيب (4/ 226)، وتهذيب الكمال (12/ 201،لسان الميزان (4/ 355)، والأعلام (5/ 74)

[2]. نوم يې أبو بكر أحمد بن علي رازي حنفي البغدادي، په جصاص شهرت لري، د اسلامي امت ستر امام دی،په بیلا بیلو علومو کې ګڼ شمیر کتابونه لري له که د بیلګې په ډول: د محمد بن بن الحسن الشيباني الجامع الکبیر شرحه ، د محمد بن الحسن الشيباني د الجامع الصغير شرحه، د امام محمد بن الحسن الشیباني د كتاب المناسك شرحه، د امام طحاوی دکتاب مختصر الفقه شرحه ،د امام الطحاوی د کتاب الآثارشرحه ،مختصر اختلاف الفقهاء للطحاوی، د امام خصاف د کتاب ادب القاضي شرحه ،د امام الکرخی د کتاب المختصرشرحه ،شرح الأسماء الحسنى،جوابات المسائل،أحكام القرآن،الفصول في الأصول.دا ستر امام په کال ۳۷۰هجری بغداد کې وفات شوی. ودی کتل شي: «الجواهر المضيئة» للقرشي (١/ ٨٤)، «طبقات المفسرين» للداودي (١/ ٥٦)، «طبقات المفسرين» للسيوطي (٥)، «الفوائد البهية» للكنوي (٢٧)، «شذرات الذهب» لابن العماد (٣/ ٧١)

[3]. نوم يې محمد بن عبد الله بن محمد المعافري الاشبيلي المالكي، أبو بكر ابن العربي دی: (468 - 453 ه = 1076 - 1148 م) سترقاضی، حافظ الحديث.په اشپیلیه کې زیږ دلی ، په اسلامی اسلامی علومو کې مجتهد ګڼل کیږي ، په تفسیر، حدیث، فقه ، اصولو، ادب او تاریخ کې ګڼ شمیر کتابونه لري چې دهغی له جملې څخه یې ځینی دا دی:
(العواصم من القواصم) ، (عارضة الاحوذي في شرح الترمذي) ، (أحكام القرآن) ، (القبس في شرح موطأ ابن أنس) ، (الناسخ والمنسوخ) ، (المسالك على موطأ مالك) ، و (الانصاف في مسائل الخلاف) ، (أعيان الاعيان) ، (المحصول) ، (كتاب المتكلمين) ، (قانون التأويل).
ووينئ: وفيات الاعيان 1: 489 ونفح الطيب 1: 340 وقضاة الاندلس 105 والديباج المذهب 281 والصلة لابن بشكوال 531 و 632

[4]. نوم يې: علي بن محمد بن علي الإمام شمس الإسلام أبو الحسن إلكيا الهراسي، تخلص یا لقب یې عماد الدين ،ستر عالم، فقیه ،مفسر او اصولی و، په کال ۴۵۰ هجري کې زیږدلی، ګڼ شمیر لیکنې یې امت ته په میراث کې پریښې دي چې دهغی له جملې څخه:
- أحكام القرآن، وهو كتاب في التفسير الفقهي للقرآن.- التعليق في أصول الفقه - تلويح مدارك الأحكام - مطالع الأحكام - شفاء المسترشدين في مباحث المجتهدين- لوامع الدلائل في زوايا المسائل - نقض مفردات الإمام أحمد ، دا ستر شخصیب په بغداد کې په کال (504هـ) وفات شوی دی.
ويل کيږي چې"إلكيا" دهمزه په کسره او د لام په سکون او د کاف په کسره په فارسی ژبه کې د(ستر او لوی) په معنی دی او "الهراسي" هغه چا ته ويل کيږي چې د خپل په منځ کې د قدر او مقام څښتن وي .و دی کتل شي مناهج المفسرين ( 91/1)، الفتح المبين للمراغي (7/2).
المنتظم 122/17، التكملة لوفيات النقلة 414/2، المنتخب من السياق لتاريخ نيسابور ص(336)، الكامل في التاريخ 484/10، وفيات الأعيان 286/3، سير أعلام النبلاء 350/19

[5]. نوم يې: على بن محمد بن حبیب ماوردي، لقب یې : ابو الحسن په کال ۳٦۴ هجري په بصره کې پیدا شوی او په کال ۴۵۰ هجري کې وفات شوی ، امام ماوردي د امت یو ستر عالم، مفسر، محدث او فقیه دی ډېر تالیفات لري له که د بیلګې په ډول:۱- مختصر علوم القرآن ۲- امثال القرآن ۳- النکت والعیون ۴- الحاوي ۵- الاقناع ٦- الاحکام السلطانیه ۷- قوانین الوزاره ۸- کتاب درر السلوک فی سیاسه الملوک ۹- ادب الدین والدنیا ۱۰-اعلام النبوه ، او داسی نور و وینئ: الاعلام للزرکلی۱۴۷/۵، معجم الادباء ۴۰۸/۵، البدایه والنهایه۸۰/۱۲، وفیات الاعیان۲۸۴/۳

[6]. هغه ستر عالم الشيخ عز الدين بن عبد العزيز بن عبد السلام بن أبي القاسم بن حسن بن محمد بن مهذب السلمي، چې په العز بن عبد السلام شهرت لري په کال ۵۷۷هجري په دمشق دمشق کې زیږدلی او ٦۴۷ کې وفات شوی، د هغه ځانګړي جرات او شهامت له کبله چې الله تعالی ورته ورکړی و د وخت علماو ورته د سلطان العلماء لقب ورکړ، ګڼی لیکنی لري لکه:-
القواعد الكبرى -شجرة المعارف .الدلائل المتعلقة .تفسير مختصر للقرآن .مختصر صحيح مسلم .الغاية في اختصار النهاية .بداية السول في تفضيل الرسول .الفتاوى الموصلية والمصرية- بيان أحوال الناس يوم القيامة.او داسی نور.ووینئ: طبقات الشافعية: (8/ 214 .(البداية والنهاية: (13/ 264 .(العبر للذهبي: (5/ 260 .(شذرات الذهب: (5/ 302 .(حسن المحاضرة: (1/ 343.(طبقات المفسرين: (1/ 312).

[7]. نوم يې : أبو عبدالله شمس الدين محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد بن حريز بن مكي زيد الدين زُرعي ،دمشقي ،حنبلي چې په بابن قيم الجوزية شهرت لري. په کال ٦۹۱ هجري په دمشق کې زیږدلی او په کال ۷۵۱ هجري کې د شپیتو کالو په عمر وفات شوی، په امت کې د ډېر ستر عابد او زاهد په صفت شهرت لري ، په بیلا بیلو علومو کې ګڼ شمیر کتابونه لیکلی چې ځینی یې په لاندی ډول دي: الصواعق المرسلة . زاد المعاد .. مفتاح دار السعادة .. مدارج السالكين. الكافية الشافية في النحو. الكافية الشافية في الانتصار للفرقة الناجية. الكلم الطيب والعمل الصالح. الكلام على مسألة السماع. هداية الحيارى في أجوبة اليهود والنصارى. المنار المنيف في الصحيح والضعيف. اعلام الموقعين عن رب العالمين. الفروسية. طريق الهجرتين وباب السعادتين. الطرق الحكمية. و دی کتل شي: ذيل طبقات الحنابلة (447/2 )لابن رجب ، ذيل العبر (282/5) للذهبي ، المقصد الأرشد (2/ 384) البداية والنهاية : 202/14 الدرر الكامنة : 23/4

او تر دی چې په څوارلسمه هجري پیړۍ کې موضوعي تفسیر د یو مستقل علم په حیث د ځانګړي قواعدو او اصولو سره مطرح شو، او د معاصرو تمدني ، سیاسي، اقتصادي ، ټولنیزو، کائناتی......مسائلو ته په کتلو سره د هری اړینی موضوع په اړوند تفسیر پوهانو د قرآن کریم څخه د هدایت او لارښوونی د لاس ته راوړلو په موخه په لسګونو مسائل او د هغې قرآني حل لارې په ګوته ګړې، او د موضوعي تفسیر د اصولو او قواعدو پر بنسټ یې بې شمیره لیکنې اسلامي ټولنې ته وړاندی کړي.

لکه د مثال په توګه:

- انسان د قرآن کریم په رڼا کې.
- صبر د قرآن کریم په رڼا کې.
- اخلاق دقرآن کریم په رڼا کې.
- ښځه د قرآن کریم په رڼا کې.
- یهود د قرآن کریم په رڼا کې.
- توبه د قرآن کریم په رڼا کې.
- نفاق او منافقین د قرآن کریم په رڼا کې.
- د مؤمنانو صفات د قرآن کریم په رڼا کې.
- سوله د قرآن کریم په رڼا کې.
- جهاد د قرآن کریم په رڼا کې.
- علم او علماء د قرآن کریم په رڼا کې.

## د موضوعي تفسیر او نورو تفسیري کړنلارو تر منځ توپیر

### لومړی: د موضوعي او تحلیلي تفسیر تر منځ توپیر

1. د تحلیلي تفسیر کړنلاره دا ده چې مفسر د مصحفي ترتیب پر اساس د سورتونو او آیاتونو تفسیر کوي، مګر په موضوعي تفسیر کې مفسر د مصحفي ترتیب په التزام مکلف نه وي بلکې د ټاکلې موضوع اړوند آیتونو نزولي ترتیب په پام کې نیسي.
2. په تحلیلي تفسیر کې مفسر هغه ټول موضوعات د څیړنې لاندې نیسي چې په آیتونو او سورتونو کې ورته اشاره شوی وي مګر په موضوعي تفسیر کې یوازې ټاکل شوی موضوع څیړي.1
3. مفسر په تحلیلي تفسیر کې د قرآن کریم ټول الفاظ او کلمات تشریح کوي مګر په موضوعي تفسیر کې یوازی هغه کلمات او الفاظ تشریح کوي چې د ټاکل شوی موضوع پورې تړلې وي.
4. په موضوعي تفسیر کې قرآني موضوعات د مستقلو او جدا څېړنو په شکل ترتیب کیدای شي چې دا په تحلیلي تفسیر شونی نه ده.
5. د تحلیلي تفسیر کړنلاره پخوانی ده چې بې شمیره تفسیرونه پری لیکل شوي، مګر د موضوعي تفسیر طریقه او کړنلاره نوی ده چې تر اوسه پکې ډېرو لیکنو ته اړتیا ده، لکه څرنګه چې دکتور محمد عبد الرحمن بیصار د "الإنسان في القرآن" نومي کتاب کې وایي: (په ډېره مینه او خلوص غوښتنه کوو چې دقرآني بحثونو او څېړنو په لړ کې د دی ډول تفسیر (موضوعي تفسیر) په اړه باید علماء او پوهان په انفرادي او ډلییز ډول خپلې هلې ځلې تندې او ګړندی کړي ترڅو قرآني کتابتون غني او بشپړ شي.)[2]

### دوم: د موضوعي او اجمالي تفسیر توپیر

1. لومړنی توپیر یې دا دی چې په موضوعي تفسیر کې یو ځانګړې موضوع هدف وي، څېړونکې د اړوند آیتونو پلټنه کوي چې د قرآن کریم په هر سورت کې موجود وي، مصحفي ترتیب په پام کې نه نیسي، په اجمالي تفسیر کې که څه هم مفسر د آیتونو اجمالي معنی او مفهوم بیانوي البته د مصحف ترتیب په پام کې نیسي.
2. په موضوعي تفسیر څېړونکې د یوی موضوع په چاپیریال کې څرخیږي، د هغې ټول اړخونه د قرآني آیتونو په رڼا کې د ځانګړي منهج او تګلورې په پام کې نیولو سره د بحث او څېړنې لاندی نیسي، مګر په اجمالي تفسیر کې داسی نه ده بلکې مفسر هغه ټول مسائل په مختصر ډول بیانوي چې آیتونه ورته اشاره کوی.

### دریم: د موضوعي او مقارن تفسیر توپیر

لکه مخکې مو چې اشاره وکړه – موضوعي تفسیر یو ه ځانګړې قرآني موضوع د بحث او څېړنې لاندې نیسي- او مقارن تفسیر د قرآني آیتونو په اړوند چې ټولو مفسرینو څه ویلی یا لیکلي وي راغونډوي.

په موضوعي تفسیر کې څېړونکې خپلې موخې ته د رسیدلو په خاطر د موضوع اړوند ټول آیتونه را غونډوي او بیا یې د همغه آیتونو په رڼا کې په جلا جلا برخو او عناصرو ویشي، مګر په مقارن تفسیر کې څېړونکې د آیتونو په اړند د پخوانیو یا معاصرو مفسرینو اقوال راجمع کوي ، د هغوی تر منځه موازنه کوي او د هغوی بیلا بیلو تګلورو ته اشاره کوي.

## د موضوعي تفسیر ارزښت او ګټې

د قرآن کریم د تفسیر د ډولونو په لړ کې موضوعي تفسیر خورا ارزښتناک او ګټور تفسیر بلل کیږي، د موضوعي تفسیر له لارې مونږ هغه ګټې لاس ته راوړای شو چې د تفسیر د نورو ډولونو له لارې یې نشو تر لاسه کولای په لاندې کرښو کې د موضوعي تفسیرارزښت او ځینې ګټې لوستونکیو سره شریکوو.

د موضوعي تفسیر له لارې مونږ لاندې ګټې تر لاسه کولای شو:

---

[1]. الشيخ شلتوت من هدى القرآن ص324..

[2] . محمد عبد الرحمن بيصار. مقدمة "الإنسان في القرآن" ص 3

❖ د انسان په ژوند کې دنویو مطرح شویو افکارو او نویو پیښ شویومسائلو لپاره درستې او سمې حل لارې په ګوته کول.

❖ د یوې ټاکلې او معینې موضوع په اړوند زیات، باوري او کوټلي معلومات تر لاسه کول.

❖ د مسلمانانو ننني ستونزې د قرآن کریم په رڼا کې څېړل او د قرآن په رڼا کې هغې ته حل لارې په ګوته کول.

❖ د قرآن کریم په رڼا کې د معاصر انسان د ستونزو او د هغې د حل لارو په وړاندې کولو هغه په دې باوري کـول چـې قـرآن کـریم د الله تعـالی کـلام دی او دهـرې زمانې او هر ځای د هر راز ستونزو حل پکې شتون لري، قرآن کریم د هرې ستونزې حل لارې د هر عصر او هر ډول ثقافت لرونکیو د فهم سره برابرې وړاندې کوي.

❖ په نوې بڼه د ژوند د بېلابېلو ابعادو سره تړاو لرونکي قرآني موضوعات وړاندې کول وګړي قرآن کریم ته متوجه کوي،او د قرآن سره یې مینه او علاقه زیاتیږي.

❖ موضوعي تفسیر په ډیر ښه شکل او ښکلې بڼه د قرآن کریم اساسي موخو او اهدافو ته تحقق وربخښي.

❖ د موضوعي تفسیر له لارې څیړونکې د قرآني اعجاز نوي اړخونه رابر سیره کوي او هغه ته لاس رسی پیدا کوي،ځکه چـې قـرآن کـریم یـو داسـی کتـاب دی چـې عجائب او اعجاز یې پای نلري.

❖ د موضوعي تفسیر له لارې د مختلفو مسائلو او څیړنو شرعي او قرآني تاصیل رامنځ ته کیږي،او د ډیرو قضایاو روند او کړنلارې تصحیح کیږي او سمون مومي.

❖ د قرآن کریم د موضوعي تفسیر له لارې په حقیقت کې څیړونکې د الله تعالی دا امر پر ځای کوي چې ځای پر ځای پـه قـرآن کـریم کـې ورتـه اشـاره شـوی چـې تاسی باید د قرآن په آیتونو کې د غور او فکر کولو څخه کار واخلئ.

❖ موضوعي تفسیر په حقیقیت کې تفسیر القرآن بالقرآن دی،- لکه چې په پیل کې مو ورته اشاره کړی ده - د قرآن کریم ځینې آیتونه مجمـل دي چـې تفصـیل یـې په نورو آیتونو کې ذکر شوی، یا هم ځینې احکام په یو ځای کې مطلق ذکر شوی چې بیا په بل ځای کې مقید شوی.

❖ د موضوعي تفسیر له لارې چې موږ کله د ګڼ شمیر نوي موضوعاتو سره آشنا کیږو او بیلا بیل قرآني تحلیلات مطالعه کوو د قرآن کریم عظمـت او لـویې نـوره هـم را څرګندیږي،او په دې ستر کتاب مو باور او یقین نور هم عښتلی کیږي او پخیږي.

❖ د موضوعي تفسیر له لارې د قرآن فهمی عنصر نور هم وده مومي او عښتلې کیږي.

❖ د موضوعي تفسیر له لارې د قرآن کریم د بیلابیلو ګړنلارو او اسالیبو سره انسان آشنا کیږي.

❖ د موضوعي تفسیر له لارې په یو مورد کې د قرآن کریم خواره واره آیتونه په یو ځای کې را غونډیږي او هغه د یو بشـپړې څیړنـې پـه بڼـه د خلکـو مخ تـه ایښـودل کیږي.

❖ د موضوعي تفسیر له لارې موږ تعارض چې کله نا کله لوستونکي ته په ظاهري بڼه د ځینې آیتونو تر منځ په نظر راځي رفع کولای شـو او د هغـی درسـت تفسـیر او سالمه توجیه وړاندې کولای شو.

موضوعي تفسیر دا او دې ته ورته ګڼ شمیر ګټې لري چې په ټوله کې د دې تفسیر په ارزښت او اهمیـت دلالـت کـوي ،پـه ټولـه معنـی دا ګټـې هغـه مهـال تـر لاسـه کیدای شي چې علمي مرکزونه، دینې مدرسې، پوهنتونونه ... دی ډول تفسیر ته پوره پاملرنه وکړي او په خپل کاریکولم او مفرداتو کې ورته ځای ورکړي.

**د موضوعي تفسیر د منځته راتللو لاملونه**

د تفسیر په ډګر کې د دې نوي تفسیر د منځه ته راتللو ګڼ شمیر لاملونه دي چې ځینو ته یې موږ په لاندې ډول اشاره کوو:

1. دا چې په نني زمانه کې د څیړنې او تحقیق په میدان کې ورځ تر بله څیړونکې د دقیقـو تخصصـاتو پـه لـور روان دي، او هـره څیړنـه د اړونـد موضـوع پـه هکلـه پـه استقرائي ډول ټول جزئیات د بحث لاندې نیسي، د قرآني څیړنو مراکزو او تفسیر پوهانو هم د زمانې او د مخاطبینو د غوښتنو سره سم همدا(موضوعي تفسیر) تګلاره غـوره کړه تر څو له یوه خوا نویو مسائلو ته قرآني حل لاری پیدا شي او له بل پلوه د هغوی تحقیقي او علمي تنده ماته شي.

2. د بحث او څیړنې په میدان کې اسلام دښمنه وګړو او په ځانګړي ډول مستشرقین او مبشرین - چې د خپلو ناوړه موخو په خاطر یې ـ تندې هڅې پـه لاره اچـولې ، او په دې لړ کې یې بې شمیره څیړنیز مرکزونه جوړ کړي، او دې شوم هدف ته د رسیدلو په خاطر بی حسـابه لګښـتونه کـوي، د دوی ځینـې څیړنـې او تحقیقـات د دوی د شومو اهدافو بالعکس د قرآن کریم د خدمت لامل وګرځیدل لکه د مثال په توګه د آلمـاني مستشـرق ګوسـتاف فلوګـل [1] کتـاب(نجوم الفرقـان فـی اطـراف القـرآن) او یـا د فرانسوي مستشرق ګل لابوم [2] لیکنه( تفصیل موضوعات القرآن) او یا د (المعجم المفهرس لألفاظ القرآن الکریم) په نوم د هغه بل کتاب او د (تفصیل آیات القـرآن الکـریم) د هغه بله لیکنه چې په پای کې یې د ادوارد مونتیه کتاب (المستدرك) ورسره هم ضمیمه شوی.دا او دې ته ورته کتابونه چې کلـه عـربي ژبـې تـه وژبـاړل شـول دی کـار د مسلمانو پوهانو او په ځانګړي ډول د تفسیر پوهانو پر واړاندې د قرآني څیړنو نوې دروازې پرانستې چې ورو ورو د قرآن کریم د موضوعي تفسیرد ایجاد وسیله او لامل شول.

3. د قرآن کریم په اړوند د مستشرقینو او مبشرینو د شبهاتو او نیوکو د رد په منظور اسلامي مفکرینو، دعوتګرانو او تفسیر پوهانو لیکنې چې ځانګړې قرآنـی رنـګ یـې درلود بالآخره د موضوعي تفسیر لپـاره مقدمـه او تمهیـد وګرځیـدلې لکـه د اسـتاد شـیخ محمـد رشـید رضـا [3] کتـاب(الوحی المحمـدي) او د دکتـور عبـدالله دراز [1] دا دوه لیکنې(مدخل الی القرآن الکریم) او(دستورالاخلاق فی القرآن)

---

[1]. ګوستاف فلوګل(Gustavus Fluegel) آلماني مستقرق دی چې په کال۱۸۰۲میلادي کې زیږدلی او کال۱۸۷۰ کې وفات شوی، د خپلو ځانګړو اهدافو لپاره یې د (نجوم الفرقان في اطراف القرآن ) په نوم د قرآني کلماتو پر فهرست مشتمل دا کتاب لیکلی، چې په کال ۱۸۴۲ میلادي کې د لومړي ځل لپاره چاپ شو.

[2]. لابوم ګول(Labeaume, Jules ) فرانسوي مستشرق دې چې په کال۱۸۰٦ کې زیږیدلی او۱۸۷٦ کې وفات شوی د (تفصیل آیات القرآن الحکیم) په نوم کتاب یې په فرانسوي ژبه لیکلی او محمد فواد عبدالباقی عربي ته ژباړلی دی.

[3]. محمد رشید بن علي رضا بن محمد شمس الدین بن محمد بهاء الدین بن منلا علي خلیفة القلموني الحسیني(1282 - 1354 هـ = 1865 - 1935 م) د اسلامي نړی د نامتو لیکوالانو له جملې څخه شمیرل کیږي چې په تفسیر،حدیث ، تاریخ او آدب کې لوی لاس لري نوموړې په د شام په طرابلس کې زیږدلی او د زده کړې لپاره د مصر هیواد ته سفر کړی او د شیخ محمد عبده شاګرد خاص پاته شوی .ګڼ شمیر کتابونه لري لکه د نمونې په ډول: تحقیق حقوق النساء في الإسلام،مجلة المنار،الوحي المحمدي،الخلافة،تفسیر المنار،رسائل السنة والشیعة . ووینئ:الاعلام للزرکلي

4. د دې لومړي او تمهيدي پړاو وروسته د موضوعي تفسير په اړه - د لومړني هڅو په حيث - دا لاندې او دې ته ورته کتابونه وليکل شول ، او په دې تربيت د موضوعي تفسير په ميدان کې د ليکنو لړۍ پيل شوه او لا ادامه لري:

- د شيخ محمد فؤاد عبد الباقي -رحمه الله- کتابونه (معجم غريب القرآن) (معجم ألفاظ القرآن الكريم) چې دا آخرنی کتاب يې په اصل کې د امام راغب اصفهانی د کتاب(مفردات القرآن) او فرانسوي مستشرق گل لابوم د کتاب (المعجم المفهرس لألفاظ القرآن الكريم) امتزاج دی .
- د شيخ محمد فارس بركات 2 کتاب(المرشد إلى آيات القرآن الكريم وكلماته).
- د يحيى حلمي بن حسين القسطموني کتاب (مصباح الإخوان لتحريات القرآن).
- د شيخ محمد عبد الخالق عضيمة 3 کتاب (دراسات لأسلوب القرآن الكريم) چې په لس ټوکه کې چاپ شوی دی.او داسې نور ګڼ شمير کتابونه چې يادونه يې ممکن د بحث د اوږ والي لامل شي.

**د موضوعي تفسير ډولونه:** لدې امله چې په پخوانيو تفسيري ادبياتو کې د موضوعي تفسير اصطلاح مروجه نه وه او د نوموړي تفسير د ډولونو او نورو قواعدو په اړه پکې په ځانګړې تفصيلات نشته نو لدې کبله کله چې موږ د معاصرو ليکوالانو او تفسير پوهانو ليکنو ته مراجعه کوو دا تر سترګو کيږي چې د موضوعي تفسير د ډولونو په اړه دوی يوه خوله نه دي 4، ښايي د دې لامل همدا وي چې د موضوعي تفسير اصطلاح نوې ده او دا ډګر لا هم نوښتونو او اجتهاد ته اړتيا لري، البته موږ دلته د موضوعي تفسير پرڅو مشهورو ډولونو ځغلنده نظر اچوو:

**د قرآني کلماتو پر بنسټ موضوعي تفسير**

په دې معنی چې يو څيړونکې د قرآني کلماتو څخه يوه کلمه انتخابوي، او هغه ټول قرآني آيتونه - چې نوموړې کلمه يا د هغه مشتقات پکې ذکر شوي وي – راغونډوي، بيا يې د سياق او سباق په نظر کې نيولو سره په جامع ډول تفسيروي، او په پای کې بيا د خپل وس سره سم د هغه مدلولات او مصداقات استباط کوي لکه د بيلګې په ډول دا کلمات: (الهداية، الامة، الإيمان، الإسلام، المال، الفضل، العافية، الأجر، الطعام، الظفر، والغنيمة، الرحمة )او داسې نور.

**د قرآني موضوع پر بنسټ موضوعي تفسير**

په دې معنی چې څيړونکې داسې يو موضوع د څيړنې ،بحث او تحليل لپاره انتخابوي چې د قرآن کريم په سورتونو کې په بيلا بيلو بڼو او اسلوبونو مطرح شوی وي، لومړې د قرآن کريم د مختلفو سورتونو څخه هغه آيتونه راغونډوي چې نوموړې موضوع پورې تړلې وي، بيا د دې آيتونو تفسير د بحث او څيړنې لاندې نيسي، لدې وروسته له همدې آيتونو په رڼا کې د اړوند موضوع عناصر او جزئيات استنباط کوي او - د څيړنې په پام کې نيولوسره ـ هغه په بابونو ، فصلونو او مباحثو ويشي- ، او د هر باب ، فصل او مبحث اړوند آيتونه د همغه لاندې ځای پرځای کوي او په ټوله کې موضوع د تولنې د موجوده واقعيتونو او ستونزو سره تړي او هغه ته د موضوعي تفسير پر اساس قرآني حل لارې پشنهادوي، البته په دې ډول تفسير کې څيړونکې د نورو جانبي مواردو لکه(صرفي او نحوي تحليلات، بلاغي څيړنې، بيلابيل قرآني قراءتونه.....) څخه ډډه کوي.

لکه د بيلګې په ډول: د قرآن کريم اعجاز، په قرآن کريم کې ناسخ او منسوخ ، د قرآن کريم احكام ، د قرآن کريم امثال ، په قرآن کريم کې او داسې نور.

يا د کائناتو پورې تړلي موضوعات لکه:غرونه ، بحرونه،نباتات ، حيوانات او دهغه اړوند مسائل د قرآني آيتونو په رڼا کې بيانول او تحليل کول.

يا د انسان پورې اړوند موضوعات لکه: د انسان پيدائښت، د هغه عواطف او غرائز، دهغه اخلاق د هغه د ژوندده موخه......

يا د ټولنيز ژوند پورې تړلي موضوعات لکه: کورنی ژوند،ټولنيز آداب، د خپلوانو او همسايه ګانو حقوق...... يا اقتصادي، سياسي،تمدني موضوعات او مسائل.

**د قرآن کريم د يوه سورت بنسټيزه موخه څيړل:**

په دې معنی چې څيړونکې هڅه کوي چې د يو سورت اساسی هدف او موخه د نوموړی سورت په رڼا کې د بحث او څيړنې لاندې نيسي.

په دې ډول موضوعي تفسير کې څيړونکې لومړي هڅه کوي چې د سورت مکيت او مدنيت په پام کې نيولو سره د سورت اساسي او بنسټيزه موخه او هدف په ګوته کړي،لدې وروسته سورت په وړو وړو برخو وويشي او هره برخه د اساسي او بنسټيز هدف پورې وتړي.

لکه د بيلګې په توګه: توحيد د اخلاص د سورت په رڼا کې، دقيامت د ورځې حالات د الحاقة سورت په رڼا کې او داسې نور.5

**د موضوعي تفسير مناهج او کړنلارې**

په تيرو پاڼو کې موږ د موضوعي تفسير له ډولونو څخه يادونه وکړه، دلته د هر ډول(موضوعي تفسير) ځانګړي منهج او تګلارې ته اشاره کوو.

---

1. محمد عبد الله دراز د مصر په كفر الشيخ ښار کې په کال۱۸۹۴ م کې زيږدلی د په ازهر پوهنتون کې خپلی تحصيلات سرته رسولی او د فرانس د سربون پوهنتون څخه يې دکتوراه تر لاسه کړی، په کال ۱۹۵۸م د يو علمي کانفرانس په ترځ کې د لاهور پاکستان کې وفات شوی.د ګڼ شمير کتابونو مولف دی لکه:النبأ العظيم, نظرات جديدة في القرآن ،دستور الأخلاق في القرآن ،مدخل إلى القرآن الكريم عرض تاريخي وتحليل مقارن من خلق القرآن،المختار من كنوز السنة النبوية: شرح أربعين حديثا في أصول الدين،نظرات في الإسلام،أصل الإسلام،العبادات: الصلاة - الزكاة - الصوم – الحج،الصوم تربية وجهاد،زاد المسلم للدين والحياة. ووينئ:.viaf.org _ aleph.nkp.cz.aleph.nkp.cz" .

2. أستاذ محمد فارس بركات ددمشق اوسيدونکې او دمعاصرو علماو له جملې څخه شميرل کيږي، د ژوند په اړه يې نور معلومات ما تر لاسه نکړای شو.

3. محمّدُ بنُ عبدِ الخالقِ بنِ عليٍّ بنِ عضيمة د معاصرو علماو څخه دی،په کال۱۹۱۰م مصر کې زيږدلی، ډير علمي خدمتونه يې کړي،مشهور کتاب يې(دراسات لأسلوب القرآن الكريم) په يوولس ټوکونو کې چاپ شوی،نوموړی په ۱۹۸۴م کال کې د يوې ترافيکي پيښې په نتيجه کې په حق رسيدلی. ووينئ: موقع جائزة الملك فيصل: الشيخ الدكتور محمد عبد الخالق عضيمة

http://kfip.org/ar/professor-mohammad-a-odaimah

4. و دی کتل شي،المدخل الی التفسير الموضوعي،دکتورعبدالستارفتح الله سعيد،کليه اصول الدين ـ القاهره.او مباحث في التفسير الموضوعي ،دكتور مصطفى مسلم . ناشر: دار القلم الطبعة: الرابعة 1426هـ - 2005

5. المدخل الی التفسير الموضوعي،اوهمدا راز: مباحث في التفسير الموضوعي

**د قرآني کلماتو پر بنسټ موضوعي تفسير او د هغه منهج او کړنلاره:**

کله چې يو څېړونکې غواړي چې د قرآن کريم د يو ځانګړې کلمې پر اساس موضوعي تفسير وکړي نو بايد لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

1. لومړي بايد هغه ځانګړې کلمه يا لفظ په ټول قرآن کريم کې و پلټي.
2. بيا هغه ټول آيتونه ـ چې نوموړې کلمه يا د هغه مشتقات پکې راغلي وي – يو ځای راغونډ کړي.
3. د آيتونو د جمع کولو څخه وروسته بيا د معتبرو تفسيري کتابونو څخه هغه تفسير کړي.
4. بيا به هڅه کوي چې د قرآني استعمال په رڼا کې د ټاکلي کلمې مدلولات او مصداقات استنباط او بيان کړي.

د قرآني موضوع پر بنسټ موضوعي تفسير او د هغه منهج او کړنلاره:

يعنی کله چې څېړونکې يو موضوع د څېړنې او تحليل لپاره انتخابوي چې د قرآن کريم په سورتونو کې په بـيلا بيلـو بڼـو او اسـلوبونو مطـرح شـوی وي،څېړونکـې بايـد لاندې تګلاره په پام کې ونيسي:

1. لومړي دی د قرآني موضوع لپاره مناسب او جامع عنوان وټاکي.
2. هغه ټول آيتونه ـ چې نوموړې موضوع پکې ځېرل شوی يا ورته پکې اشاره شوی ـ را غونډ کړي.
3. له دی وروسته راغونډ کړای شوی آيتونه د نزول په اعتبار ترتيب او ناسخ له منسوخ څخه جلا کړي.
4. د تحليلي تفسير کتابونو ته په رجوع کولو د راغونډ شويو آيتونو بشپړ تفسيروکړي.
5. د راغونډ شويو آيتونو د بشپړ تفسير او فهم څخه وروسته د اړوند آيتونو د لارښوونو په رڼا کې د ټاکل شوې موضوع بنسټيز عناصر ټاکل،البته څېړونکـې د موضـوع د طبيعت پراساس يا د منطقی تسلسل په منظور د موضوع د عناصرو په وړاندې وروستو کولو کې تصرف کولای شي.
6. کله چې څېرونکې وغواړي د موضوعي تفسير په رڼا کې يوه موضوع وڅيړي د موضوع لپاره د پلان جوړونې پر مهال بايد د علمي څېړنې اصـول او قواعـد پـه پـام کې ونيسي د مثال په توګه که چيرې موضوع پراخه وي او بيلا بيل عناصر ولري بايد څېرونکې د يو پيليز مطلب په ترڅ کې خپله کړنلاره روښانه کړي ، بيا خپلـه څېرنـه پـه بابونو، فصلونو، مبحثونو د منطقي تسلسل په پام کې نيولو سره وويشي، او د څېړنې عناوينو ته په کتو د موضوع لپاره يو جامع او هـر اړخيـز عنـوان وټـاکي.او کـه چيـرې د څېړنې موضوع مختصره او محدوده وي نو په دی صورت کې يې بايد د يو مقالې په بڼه - چې مقدمه ،اساسي مطلب او پای باندی مشتمله وي – وړاندی کړي.
7. څېرونکی به هڅه کوي چې د څېړنيزی موضوع د بابونو، فصلونو او مبحثونو عنوانونه د قرآنی آيتونو څخـه واخلـي، البتـه د رسـول الله صـلی الله عليـه احـاديثو، د صحابه کرامو او تابعينو اقوالو څخه په متن کې د موضوع د وضاحت، بيان او شرحی په حيث ګټه اخستلای شي، مګر د بنسټيزو عنوانو په حيث يـې نشـی کـارولی تـر څـو موضوع د موضوعي تفسير په رڼا کې په کره ډول و څېړل شي.
8. څېړونکې به - د موضوعي تفسير په ترڅ کې د موضوعي او ضعيفه روايتونو، د اسرائيلي قصو د ذکر کولو څخه به په کلکه - ډډه کوي، ټولـه هڅـه بـه يـې دا وي د قرآن کريم د آيتونو په رڼا کې موضوع د څېړنې لاندی ونيسي.
9. د اړتيا په صورت کې بايد د حاشيې څخه استفاده وکړي، په دی معنی چې که کله د يوی غامضی کلمې بيان، يا د کوم قراءت توجيه ، يا د کومې بلاغـی نقطـې ذکر.....ته اړتيا پيدا کيدله - نو پر ځای د دی چې هغه په متن کې ځای پرځای کړي او د قرآنی موضوع تسلسل ګډ وډ کړي – هغه بايد په حاشيه کې ذکر کړي.

د سورت د بنسټيز هدف (الوحدة الموضوعية) پر اساس موضوعي تفسير.

د موضوعي تفسير دريم ډول د يو سورت د بنسټيز هدف پر اساس تفسير کول دی، ځنيې تفسير پوهان په دی نظر دی چې د قرآن کريم هر سورت يو اسـاسي هـدف لري، او د هغه آيتونه په ټوله کې همغه هدف ته اشاره کوي ............

که څېړنکې وغواړي د سورت د بنسټيز هدف او موخې پر اساس موضوعی تفسير وکړي نو کړنلارې په حيث بايد لاندې نقطې په پام کې ونيسي:

1. په پيل کې به يوه سريزه( مقدمه) ذکر کوي چې په هغه کې به د ټاکلي سورت اړوند تفصيلات بيانوي لکه:
   - د سورت نومونه
   - د سورت فضيلتونه که په صحيح روايت ثابت و
   - د سورت ځينې ځانګړتياوی
   - د سورت د نزول سبب
   - د سورت د آيتونو شمېر
   - سورت مکي دی که مدني(د مکې يا مدنې په کوم پړاو کې نازل شوی)
2. د سورت د اساسي موخې او هدف پيژندنه، په دی معنی چې څېرونکې به هڅه کوي چې د سورت بستيز هدف مشخص کړي.[1]
3. د سورت ويش او تقسيم ، په دريم قدم کې به څېرونکې سورت او په ځانګړې ډول چې سورت اوږد وي، په بيلا بيلو برخو په دی شـکل تقسـيموي ،او دا بلابيلـی برخې به په ترتيب تفسيروي ،چې هره برخه يې د سورت په اساسي هدف يا د اساسي او بنسټيز هدف په يو عنصر باندې دلالت وکړي.
4. د سورت بيلا بيلی برخې ـ او هغه مسائل چې څېرونکې ورڅخه استنباط کړي ـ به د سورت د بنسټيز هدف پورې تړي او د هغوی اواساسي موخو ترمنځ اړيکـه او مناسبت به بيانوي.
5. په پای کې به هغه نتائج او پايلی بيانوي چې سورت او د سورت بيلابيلی برخېورباندی دلالت کوي.

د موضوعي تفسير په اړوند ځانګړې کتابونه او ليکنې

---

[1]. د سورت بنسټيز هدف خو يا د سورت د نوم څخه، يا په سورت کې د مطرح شويو موضوعاتو څخه ، او يا هم د سورت د نزول د پړاو او مرحلې څخه مشخص کيدای شي. والله اعلم

لکه چې مخکې مو ورته اشاره کړې ، پخوانیو او معاصرو علماو د موضوعي تفسیر په اړوند ګڼ شمیر کتابونه لیکلي او د هغه بیلا بیل اړخونه یې څیړلي، موږ کولای شو د لاندې ویش پر اساس ځینې کتابونو ته اشاره وکړو تر څو د دې ډګر مینه وال د څیړنې پر مهال ترې ګټه واخلي 1.

هغه کتابونه چې د یوې قرآني کلمې د څیړنې پر مهال ترې استفاده کیدای شي:

- المعجم المفهرس لألفاظ القرآن ـ لیکوال:محمد فؤاد عبد الباقي.
- معجم ألفاظ القرآن الكريم ـ چاپوونکې اداره: مجمع اللغة العربية.
- المرشد إلى آيات القرآن الكريم وكلماته ـ لیکوال:محمد فارس بركات.

هغه کتابونه چې د قرآني موضوعاتو د څیړنې پر مهال ترې استفاده کیدای شي:

- تفصيل آيات القرآن الكريم ـ لیکوال:فرانسوي مستشرق لابوم ګول( Labeaume, Jules )
- المستدرك على كتاب جول لابوم ـ لیکوال: إدوار مونتيهEdouard Monte )
- تبويب آي القران الكريم من الناحية الموضوعية ـ لیکوال:أحمد مهنا .
- المعجم الموضوعي لآيات القرآن الكريم ـ لیکوال:صبحي عبد الرؤوف عصر.
- الفهرس الموضوعي لآيات القرآن الكريم ـ لیکوال:محمد مصطفى.
- تصنيف آيات القران الكريم ـ لیکوال:محمد محمود إسماعيل.
- الترتيب والبيان عن تفصيل آي القرآن ـ لیکوال:محمد زكي صالح.
- المعجم المفصل لمواضيع القرآن المنزل ـ لیکوال:محمد خليل عيناني.
- المعجم المفهرس لمعاني القرآن الكريم ـ لیکوال:محمد بسام الزين.
- المعجم المفهرس لمعاني القرآن الكريم ـ لیکوال:محمد نايف معروف.
- المعجم الموضوعي لآيات القرآن الكريم ـ لیکوال:حسان عبد المنان.

هغه کتابونه چې د یوې قرآني کلمې او هغه ته د ورته کلمو (الأشباه والنظائر ) د څیړنې پر مهال ترې استفاده کیدای شي:

- الأشباه والنظائر في القران الكريم ـ لیکوال:مقاتل بن سليمان.
- التصاريف ـ لیکوال:يحيى بن سلام.
- نزهة الأعين النواظر في علم الوجوه والنظائر ـ لیکوال: ابن الجوزي.
- الوجوه والنظائر في القرآن الكريم ـ لیکوال:الدامغاني .
- كشف السرائر في معنى الوجوه والأشباه والنظائر ـ لیکوال:ابن العماد.
- المفردات في غريب القران ـ لیکوال:الراغب الأصفهاني.
- بصائر ذوي التمييز في لطائف الكتاب العزيز ـ لیکوال: فيروز آبادي.

هغه معاصرې لیکنې چې د موضوعي تفسیر د تګلورې ، ارزښت او قواعدو په اړه یې ترې استفاده کیدای شي:

- التفسير الموضوعي في القرآن لیکوال: دکتور أحمد الكومي.
- البداية في التفسير الموضوعي لیکوال: دکتور عبدالحي الفرماوي .
- الفتوحات الربانية في التفسير الموضوعي لیکوال: دکتور حسيني أبو فرحة .
- دراسات في القرآن الكريم – تفسير موضوعي – لیکوال: دکتور محمد عبد السلام أبو النيل .
- المدخل في التفسير الموضوعي لیکوال: دکتور عبدالستار فتح الله سعيد .
- التفسير الموضوعي بين النظرية والتطبيق لیکوال: دکتور صالح الخالدي.
- دراسات في التفسير الموضوعي لیکوال: دکتور زاهر عواض الألمعي
- مباحث في التفسيرالموضوعي لیکوال: دکتور مصطفى مسلم
- دراسات في التفسيرالموضوعي لیکوال: دکتور أحمد جمال العمري
- التفسيرالموضوعي للقرآن الكريم ونماذج منه لیکوال: دکتور أحمد عبدالله الزهراني

د موضوعي تفسیر یو مهم او ارزښتناک اړخ – چې هغه د موضوعي تفسیر د ډولونو پر اساس د هغه بیلګې او نمونې دي – په دې لیکنه کې د مقالې د اوږوالي له امله پاتې شو ان شاء الله په راتلونکي کې به د یوې ځانګړې لیکنې په ترڅ هغه د قدرمنو لوستوالو سره شریک کړو.

وسبحانک اللهم وبحمدک اشهد ان لااله الا انت استغفرک و اتوب الیک.

وصلی الله علی النبی الکریم وعلی آله وصحبه اجمعین

[1] .ما غوښتل چې یاد شوي کتابونه او لیکوالان یې قدرمنو لوستونکو ته ور وپیژنم،او هر یو کتاب او لیکونکي یې په لنډ ډول معرفي کړم، ولې د لیکنې د طوالت او اوږد والي له امله مې ترې ډډه وکړه، که فرصت پیدا شو ان شاءالله په دې اړه به تفصیلي لیکنه کوم.

**اخځلیکونه او مصادر:**


1. الصحاح تاج اللغه وصحاح العربيه٢/ ٧٨١ د إسماعيل بن حماد الجوهري ليكنه د أحمد عبد الغفور عطار تحقيق د چاپ ځـاى: دار العلـم للملايـين – بـيروت د چاپ نوبت: څلورم1407 هـ - 1987 م
2. المصباح المنير٢٤٥/١ د أحمد بن محمد بن علي الفيومي المقري ليكنه.چاپ كوونكې: المكتبة العصرية
3. المفردات في غريب القرآن: 571. دأبو القاسم الحسين بن محمد ليكنه د محمد سيد كيلاني تحقيق،اناشر دار المعرفة، د چاپ ځاى : لبنان
4. مناهل العرفان فى علوم القرآن، ج 1، ص 471، د محمد عبد العظيم، الزرقانى ليكنه ، دچاپ ځاى: دار احياء التراث العربى.
5. معجم مقاييس اللغة ١١٧/٦د أبو الحسين أحمد بن فارس بن زكريا ليكنه د عبد السلام محمـد هـارون پـه تحقيـق، چـاپ: دار الفكـر د چـاپ نوبـت: 1399هـ - 1979م.
6. مباحث في التفسير الموضوعي د دكتورمصطفى مسلم ليكنه، دچاپ ځاى: دار القلم ،الطبعة: الرابعة 1426هـ - 2005م.
7. المدخل إلى التفسير الموضوعي، للدكتور عبد الستار فتح الله.د چاپ ځاى:دار التوزيع والنشر الإسلامية، القاهرة .
8. دراسات في التفسير الموضوعي للدكتور زاهر بن عواض بن محمد الألمعي،2004 الطبعات:ط.3 الرياض.
9. . محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي. الناشر : دار ابن كثير ، اليمامة – بيروت الطبعة الثالثة ، 1407 - 1987
10. أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري النيسابوري .الناشر : دار الجيل بيروت + دار الأفاق الجديدة ـ بيروت
11. مقدمة في اصو التفسير مؤلف: أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن تيمية الحراني أبو العباس تقي الدين المحقق: عدنان زرزور سنة النشر: 1392 - 1972
12. الاعلام د خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الزركلي الدمشقي (المتوفى : 1396هـ)ناشر : دار العلم للملايين د چاپ نوبت: پنځلسم - 2002 م
13. معجم المؤلفين.المؤلف: عمر بن رضا بن محمد راغب بن عبد الغني كحالة الدمشق (المتوفى: 1408هـالناشر: مكتبة المثنى - بيروت، دار إحياء الـتراث العـربي بيروت
14. تذكرة الحفاظ محمد بن أحمد بن عثمان الذهبى.دراسة وتحقيق: زكرياعميرات.الناشر: دار الكتب العلمية بيروت-لبنان.الطبعة الأولى 1419هـ- 1998م
15. تهذيب التهذيب ابن حجر العسقلاني مطبعة مجلس دائرات المعارف النضامية, 1907.
16. وفيات الأعيان وأنباء أبناء الزمان.المؤلف : أبو العباس شمس الدين أحمد بن محمد بن أبي بكر بن خلكان.المحقق : إحسان عباس.الناشر : دار صادر – بيروت الطبعة : الجزء : 1 - الطبعة : 0 ، 1900.
17. تاريخ بغداد.المؤلف : أحمد بن علي أبو بكر الخطيب البغدادي. الناشر : دار الكتب العلمية – بيروت
18. طبقات الشافعية الكبرى المؤلف: تاج الدين أبو نصر عبد الوهاب بن علي بن عبد الكافي السبكي المحقق: محمود محمد الطناحي - عبد الفتاح الحلو النـاشر: فيصل عيسى البابي الحلبي سنة النشر: 1383 - 1964
19. بغية الوعاة في طبقات اللغويين والنحاة جلال الدين عبد الرحمن السيوطي سنة الولادة 849هـ/ سنة الوفاة 911هـ
20. شذرات الذهب في أخبار من ذهب.عبد الحي بن أحمد بن محمد العكري الحنـبلي سـنة الـولادة 1032هــ/ سـنة الوفـاة 1089هــ.تحقيـق عبـد القـادر الأرنـؤوط، محمود الأرناؤوط الناشر دار بن كثير سنة النشر 1406هـ. مكان النشر دمشق
21. نزهة الألباء فى طبقات الأدباء المؤلف: ابن الانباري لمحقق: إبراهيم السامرائي الناشر: مكتبة المنار سنة النشر: 1405 – 1985.
22. تهذيب الكمال. المؤلف : يوسف بن الزكي عبدالرحمن أبو الحجاج المزي الناشر: مؤسسة الرسالة – بيروت.الطبعة الأولى ، 1400 - 1980تحقيـق : د. بشـار عـواد معروف
23. لسان الميزان أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي. الناشر: مؤسسة الأعلمي للمطبوعـات – بـيروت - الطبعـة الثالثـة ، 1406 - 1986تحقيـق : دائرة المعرف النظامية - الهند .
24. الجواهر المضية في طبقات الحنفية المؤلف: عبد القادر بن محمد بن محمد بن نصرـ الله بـن سـالم بـن أبي الوفـاء القـرشي الحنفـي محـي الـدين أبـو محمـد . المحقق: عبد الفتاح محمد الحلو الناشر: دار هجر سنة النشر: 1413 - 1993
25. طبقات المفسرين المؤلف: محمد بن علي بن أحمد الداوودي شمس الدين الناشر: دار الكتب العلمية سنة النشر: 1403 - 1983
26. طبقات المفسرين المؤلف : عبد الرحمن بن أبي بكر السيوطي. الناشر : مكتبة وهبة – القاهرة الطبعة الأولى ، 1396
27. تحقيق : علي محمد عمر
28. الفوائد البهية في تراجم الحنفية المؤلف: محمد عبد الحى اللكنوى الهنـدي أبـو الحسـنات المحقـق: محمـد بـدر الـدين أبـو فـراس النعسـاني النـاشر: مطبعـة السعادة سنة النشر: 1324
29. نفح الطيب من غصن الأندلس الرطيب.أحمد بن محمد المقري التلمساني سنة الولادة 986/ سنة الوفاة تحقيق د. إحسان عباس النـاشر دار صـادر سـنة النشرـ 1388هـ. مكان النشر بيروت
30. الديباج المذهب في معرفة أعيان علماء المذهب المؤلف : ابن فرحون مصدر الكتاب : موقع الوراقhttp://www.alwarraq.com
31. الصلة المؤلف : ابن بشكوال مصدر الكتاب : موقع الوراق
32. الفـتح المبـين في طبقـات الأصـوليين تـأليف :عبـد الله مصـطفى المراغـي النـاشر :محمـد عـلي عثمان.مطبعـة أنصـار السـنة المحمديـة بمصرسـنة النشرـ : 1366هـ/1947م
33. المنتظم في تاريخ الملوك والأمم المؤلف : عبد الرحمن بن علي بن محمد بن الجوزي أبو الفرج الناشر : دار صادر – بيروت الطبعة الأولى ، 1358

34. التكملة لوفيات النقلة المؤلف: عبد العظيم بن عبد القوي المنذري زكي الدين أبو محمد المحقق: بشار عواد معروف الناشر: مؤسسة الرسالة سنة النشر: 1405 - 1985

35. الكامل في التاريخ المؤلف : ابن الأثير مصدر الكتاب : موقع الوراق http://www.alwarraq.com

36. سير أعلام النبلاءالمؤلف: شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (المتوفى: 748هـ)الناشر: دار الحديث- القاهرة الطبعة: 1427هـ-2006م

37. معجم الأدباء المؤلف : ياقوت الحموي مصدر الكتاب : موقع الوراق http://www.alwarraq.com

38. البداية والنهاية (ط. المعارف المؤلف: إسماعيل بن عمر بن كثير الناشر: مكتبة المعارف بيروت سنة النشر: 1410 – 1990

39. العبر في خبر من غبر المؤلف : أبو عبدالله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي.المحقق : أبو هاجر محمد السعيد بن بسيوني زغلول الناشر : دار الكتب العلمية – بيروت

40. شذرات الذهب في أخبار من ذهب .المولف عبد الحي بن أحمد بن محمد ابن العماد العكري الحنبلي ت: الأرناؤوط ناشر: دار ابن كثير.

41. حسن المحاضرة في أخبار مصر و القاهرة المؤلف : السيوطي مصدر الكتاب : موقع الوراق http://www.alwarraq.com

42. ذيل طبقات الحنابلة المؤلف : ابن رجب مصدر الكتاب : موقع الوراق http://www.alwarraq.com

43. الذيل على العبر في خبر من عبر المؤلف: ولي الدين أبو زرعة أحمد بن عبد الرحيم بن الحسين ابن العراقي المحقق: صالح مهدي عباس الناشر: مؤسسة الرسالة سنة النشر: 1409 – 1989

44. المقصد الأرشد في ذكر أصحاب الإمام أحمد الإمام برهان الدين إبراهيم بن محمد بن عبد الله بن محمد بن مفلح سنة الولادة 15 / جمادى الأولى / 816هـ/ سنة الوفاة 5/ شعبان / 884هـ تحقيق د عبد الرحمن بن سليمان العثيمين .الناشر مكتبة الرشد.سنة النشر 1410هـ - 1990م الدرر الكامنة : 23/4

viaf.org. aleph.nkp.cz" aleph.nkp.cz. .

45. موقع جائزة الملك فيصل: الشيخ الدكتور محمد عبد الخالق عضيمة

http://kfip.org/ar/professor-mohammad-a-odaimah